AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبربری
۲۰۲۵/۱۰/۰۵

# عزم

شورکوم، فریاد کړمه، چغېږمه

سر په سرو کوکارو یم، کړېږمه

سره لمبه یم، سره لمبه، په هر لوري

سوځمه، سوځل کوم، سوځېږمه

طبعه توپاني ده غورځنګونه کړي

چېري چي سوراوروي تري تاوېږمه

خنډ به مي هيڅ نه شي، هيڅ يو خنډ د مخ

ښه مي په سرکښ زړګي پوهېږمه

لاره مي مالومه ده پري خوځمه

یا به مي سر ځي، یا به رسېږمه

زما غوږ ته پردی دي د سکون نغمې

زه د وخت بچی کله ودرېږمه؟

لاس او پښي وهمه، پر مخ ځکېږمه

لوېږمه، پاڅېږمه، خوځېږمه

نه مي شي آرام او کرار، نه مي شي

ښه پدي خبريم، ښه پوهېږمه !

څو چي د مقصد منزل ته ور نه شم

تېر به له خپل عزمه په هيڅ سر نه شم !


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ